# اوسنۍ روغتیائي ستونزې
# د اسلامي فقهې په رڼا کې

ډاکټر عبدالرحمن زماني

جنوري ۲۰۰۸

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د رسالې پېژندنه


د رسالې نوم: اوسنۍ روغتيائي ستونزې د اسلامي فقهې په رڼا کې

مؤلف: ډاکټر عبدالرحمن زماني

خپرونکی: د اسلامي فقهې اداره

پرلپسې ګڼه: ۴۹

د چاپ ځای: کاليفورنيا، د امريکا متحده ايالات

د چاپ نېټه: جنوری ۲۰۰۸

دچاپ مصارف: سيد عبدالقدير هاشمي

دچاپ او خپرولو حقوق: د اسلامي فقهې اداره



د اسلامي فقهې پته:

Fazl Ghani Mogaddedi
201 Washington Blvd #104
Fremont, California 94539
Tel (510) 979-9489

ketabton.com - The Digital Library

# اوسنۍ روغتيائي ستونزې
# د اسلامي فقهې په رڼا کې

ډاکتر عبدالرحمن زماني

جنوري ۲۰۰۸

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# د مطالبو فهرست


د اسلامي فقهي سريزه ۳

لايف سپورټ ۵

د مرگ د پيژندنې عنعنوي معيارونه او عصري طبابت ۵

ناروغ څه وخت مړ گڼل کيږي؟ ۶

دلايف سپورټ د ماشين بندول ۷

روژه او ستاسې روغتيا ۹

د روژې روغتيايي گټې څه دي؟ ۹

دځينو مهمو عامو ناروغيو سره د روژې ارتباط ۹

په روژه کې د روغتيا د ښه ساتلو د پاره سپارښتنې ۱۲

د غړو پيوند او بخښل ۱۴

کوم غړي پيوند کيداې شي؟ ۱۴

د غړو او انساجو د پيوند تاريخچه ۱۵

د پيوند د پاره د انساني غړو منابع ۱۶

اسلام او د غړو بخښل ۱۷

د غړو د بخښلو او پيوند شرايط څه دي؟ ۱۸

جينونه، ارثيت او د ارثي خواصو آزمايښت ۱۹

جنيټيک بدلون او سمون څه ته وايي؟ ۲۰

د جنيټيک بدلون او سمون له لارې اصلاح شوي خواړه... ۲۰

په ناروغيو کې د جينونو برخه ۲۲

جنيټيک سلا مشوره او علاج څه ته وايي؟ ۲۲

اسلام پدې هکله څه وايي؟ ۲۳

اميدواري (حمل) ۲۵

ketabton.com - The Digital Library


د امیدوارۍ پیل ۲۵
د ماشوم د جنسیت ټاکنه ۲۶
د جنس په ټاکلو کې د پلار رول ۲۶
د مور په رحم کې د جنین وده او تکامل ۲۷
دعلمي څېړنو او قرآني ارشاداتو سمون ۲۸

## شنډتوب یا عقامت ۳۰

شنډوالې څه ته ویل کیږي؟ ۳۰
دعقامت یا شنډوالي علتونه ۳۱
د شنډوالي د علاج لارې چارې ۳۳
دنوې ټکنالوژۍ په مرسته د شنډوالي علاج ۳۴
دنوې ټکنالوژۍ نه راپیدا شوې ستونزې ۳۶
د مسلمانو ډاکټرانو او فقهې د پوهانو نظریات ۳۷

## د امیدوارۍ مخنیوې (Contraception) ۴۰

د امیدوارۍ د مخنیوي تاریخچه: ۴۰
اسلامي طب او د امیدوارۍ مخنیوې ۴۱
د امیدوارۍ د مخنیوي دطریقو ډولونه ۴۱

## کلونینګ یا د ورته شیانو جوړول ۴۵

کلونینګ څه ته وائي؟ ۴۵
د کلونینګ تاریخچه ۴۶
د حجراتو مختلف ډولونه ۴۶
د "تنی" دحجراتو (Stem Cells) اهمیت او رول ۴۸
د کلونینګ تخنیک ۴۸
د مصنوعي القاح سره د کلونینګ توپیر ۴۹
د کلونینګ په هکله دمسلمانو ډاکټرانو او اسلامی فقهی د اکادمۍ دریز ۵۱

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د اسلامي فقهې سریزه

الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام علی رسول الله  او بیا:
د اسلام د دین یو اساسی او مهم صفت دادئ چې په هر وخت او هرځای کې د تطبیق وړ دئ. د اسلام دین د ساینس او کائناتو په هکله نه یوازې داچې انسانانو ته د څیړنو او بحث آزادي وربخښلې ده، بلکه دایې یوه دیني فریضه هم ګڼلې. قرآن خلکو ته خطاب کوي چې دا: قرآن د یتفکرون، یعقلون او یتدبرون قام د پاره دئ.

اسلام هغه طبي مسائل چې په ساینس پورې اړه لري، تحقیق ته سپارلي دي. اسلامي علماوو په تیرو پنځوسو کلونو کې هم د ساینس  او هم د اسلامي او نورو علومو په برخه کې ګڼ شمیر بحثونه کړیدي. د ساینسي علومو د ودې او پرمختګ په نتیجه کې  د اسلامې فقهې عالمانو، د فقهي ټولنو په څنګ کې  د طبي فقهي ټولنه هم په رسمیت پیژندلې او خپلې فقهي فیصلې د هغې سره د سلا مشورې نه وروسته خپروي.

ketabton.com - The Digital Library

له پخوا څخه تر اوسه د افغاني ټولنې يوه ستونزه داده چې زمونږ درانه عالمان د ساينسي مسايلو نه لرې پراته دي او د نورو د تجربو څخه يې ګټه نده اخيستې. له بله پلوه افغاني ساينس پوهان هم دفقهي مسائلو په هکله محدوده معلومات لري، چې ددغو دوو علتونو په نتيجه کې ډيروطبي او فقهي ستونزو ته د حل لاره نسودل شوې نده.

"اوسنئ روغتيايي ستونزې د اسلامي فقهې په رڼا کې" دغه رساله چې ستاسې لاس ته دررسيږي، پدې هکله لومړنۍ علمي ځيرنه ده چې د ځوان افغان محقق محترم ډاکټر عبدالرحمن زماني لخوا دافغانستان دخلکو په ژبه ترسره شويده. ډاکټر زماني د اسلامي فقهې د مجلې يو مهم همکار دئ، او اسلامي فقهې يې تل ځيړنې چاپ ته سپارلي دي. دا تحقيق ځکه د ډير اهميت وړ دئ چې ځيړونکي پکې د طب د علم په څنګ کې داسلامي فقهې د معاصرو پوهانو اواسلامي طبي فقهې د ټولنې داجتهاداتو څخه ګټه اخيستې او تر ټولو مهمې فتواګانې يې دلوستونکو د زياتې استفادې دپاره ژباړلي دي.

داسلامي فقهې اداره ټولو درنو عالمانو او افغاني محققينو ته ددغې ځيړنې دخپرولو مبارکي وائي، اود پاک خدای نه جناب ډاکټر عبدالرحمن زمانی او دده ميرمنې محترمې ډاکټر نجيبې زماني ته د روغتيا سره اوږد ژوند غواړي.

فضل غني مجددي

ketabton.com - The Digital Library



# لایف سپورټ

داسلام مقدس دین دلایف سپورټ، یا هغو وسایلو نه ګټه اخیستل چې په مصنوعي توګه د تنفس او وینې جریان سره مرسته کوي او ناروغ ژوندې ساتي ترهغه وخته جایزګڼي چې دژوند کولو څه هیله موجوده وي. خو کله چې د طبي ماهرینو د ممکنو هڅو سره - سره مرګ حتمي وګڼل شي نو بیا د ایمان خاوندان د ناروغ د کورنۍ څخه غواړي چې د خدای رضا ته غاړه کیږدي او په مصنوعي توګه د غړو ژوندي ساتلو ته دوام ورنکړي. که څه هم په قرآن کې مرګ ته څو - څو ځل اشاره شوې، خود هغې مشخص تعریف ندئ شوې. او پر ځای یې د معنی او مفهوم د پوهیدو د پاره، مرګ د ژوند، خلقت او قیامت سره په نږدې ارتباط کې ذکر شویدئ.

## دمرګ د پیژندنې عنعنوي معیارونه او عصري طبابت

تر دې وروستیو وختو پورې په اسلامي کلچر کې د مرګ د پیژندنې په هکله کومه ستونزه موجوده نوه. په عمومي ډول به اسلامي قوانینو د هغوکارپوهانو او طبي ماهرینو په نظریاتو تکیه کوله، کومو چې به په عادي توګه په ناروغانو کې د مرګ

ketabton.com - The Digital Library



عملي خو عنعنوي نښې کتلې. د عنعنوي معيارونو سره سم ژوند هغه وخت ختميږي چې تنفس او د وينې جريان د تل دپاره بند شي. په بله ژبه، اسلامي فقهاوو به د زړه د درزا مکمل بنديدل کافي ګڼل چې يو شخص په قانوني توګه مړ وګڼي. خو ستونزه هغه وخت پيدا شوه کله چې عصري طبي تکنالوژۍ داسې قابليت پيدا کړ چې د ماشين په مرسته په هغو کسانو کې هم د ژوند نښې وساتي کوم چې د مغزو په مرګ اخته شوي ؤو، او د رواجي معيارونو په اساس مړه شميرل کيدل.

## ناروغ څه وخت مړ ګڼل کيږي؟

داسلامي فقهې او طب ماهرينو او س دمغزو مرګ، دمرګ د معتبره تعريف په ډول منلې او پدې باور دي چې که ماغزه له کاره ولويږي او ددماغي فعاليت بيا پيل کيدل امکان ونلري او د طب متخصصين ثابت کړي چې د مغزو مرګ منځ ته راغلې، نو ناروغ شرعاً مړ ګڼل کيږي. خو په قانوني توګه ناروغ تر هغې مړ نه ګڼل کيږي تر څو چې دبهرنۍ مرستې د سيستم يا ماشين د بندولو نه وروسته حياتي وظايف دريدلي نوي.

د اسلامي فقهاوو شورا په خپله دريمه غونډه کې چې د ۱۹۸۶ ميلادي کال د اکتوبر له ۱۱ څخه تر ۱۲ نيټې پورې د اردن په عمان کې جوړه شوې وه، د جدي مراقبت په برخه کې د لايف سپورټ په سيستم هم يو ځل بيا بحث کړې او د متخصصو طبي ډاکټرانو د پراخه او بشپړو تشريحاتو نه وروسته يې فيصله کړې ده.
د دغې فيصلې په اساس د لاندنيو نښو په ملاتړ يو شخص په

ketabton.com - The Digital Library



قانوني توګه مړ ګڼل کيږي او د مرګ د تثبيت دپاره ټولې شرعي لارښوونې د تطبيق وړ وي:

١. که زړه او تنفس په مکمل ډول ودريږي او ماهره ډاکټران تصديق کړي چې دا حالت په شا تلونکې ندئ.

٢. که د ماغزو ټول فعاليتونه په مکمل ډول بند شي او ماهره ډاکټران تصديق کړي چې دا حالت په شا تلوونکې ندئ، او ماغزه مخ په تباهۍ ځي. پدئ حالت کې که څه هم د زړه په شان د ناروغ ځنې غړي په مصنوعي توګه فعاله ساتل شوي وي، دلايف سپورټ بنديدل جايز دي.

## دلايف سپورټ د ماشين بندول

- د پورتنۍ فيصلې په رڼا کې د لايف سپورټ د ماشين بندول د مغزو د ټول فعاليت د مکمله بنديدو او ماهرو ډاکټرانو د تصديق په صورت کې جواز لري.
- مؤظفه ډاکټر (د پخواني وصيت او يا ورثې د موافقې په اساس) دغړو د بښلو او پيوند په مقصد مړې د مصنوعي تنفس په ماشين کې ساتلې شي.
- که د اوږدې ناروغۍ له امله ناروغ د اوږدې مودې دپاره په لايف سپورټ کې وي، په حالت کې يې کوم بدلون رامنځ ته نشي، او متخصصه ډاکټران فيصله وکړي چې د ښه کيدو اميد يې نشته او ماشين ورته ګټه نه رسوي، دداسې ناروغ د ماشين بندول او قضا او قدر ته د ناروغ سپارل کومه ګناه نلري. ددئ ډول ناروغانو نه د ماشين بندول د زړه سواندۍ ،

ketabton.com - The Digital Library



قتل رحمت او یا ډاکټر په مرسته د وژنې معنی نلري، ځکه مونږ هغه نه وژنو، بلکه د ماشین په وسیله د هغه علاج بندؤو. شرعي علماوو ته په ډاګه ده چې علاج او دارو درمل په ځلورو مذاهبو کي روا (مباح) دي، یوائې د فقهې لږ شمیرعالمان یې واجب ګڼي. خو د فقهې داسي هیڅ عالم نشته چې د مصنوعي ماشین له لارې علاج شرعاً واجب وګڼي او د هغې بندول د شرعي حکم خلاف وبولي.

- ځینې دیني عالمان وایې چې که ماشین ګټه نرسوي، نو بیا یې ساتل د شریعت سره مخالف دي.

او دا ځکه چې:

- دې کار سره د جنازې په ښخولو، د میراث په ویشلو او هغې د ښځې د عدت په موده کي ځنډ پیښیږي.
- پرته له ضرورته د تاوان له امله سرمایه او پانګه ضایع کیږي.
- او نورو هغو ناروغانو ته هم زیان رسیږي کوم چې دغه ماشین ته اړه لري.

د اخځلیکونو او زیاتو معلوماتو دپاره لاندني آثار ولولئ:


- فتاوي معاصر، فضل غني مجددي
- Brain Death in Islamic Jurisprudence, Dr. Abdulaziz Sachedina, University of Virginia
- Resolution of the Council of Islamic Jurisprudence on Decision No. (5) D 3/07/86 Resuscitation Apparatus

ketabton.com - The Digital Library



# روژه او ستاسې روغتيا

د روژې د مبارکې مياشتې په پيل کيدو سره هر کال د شمالي امريکې د ۸ مليونه مسلمانانو په ګډون د نړۍ د څه د پاڅه يو بليون مسلمانانو يوه زياته برخه د روژې په نيولو پيل کوي. راشئ وګورو چې روژه په روغتيا باندې څه اغيزه لري، د ځينو عامو او مهمو ناروغيو سره د روژې ارتباط څه دئ، او په روژه کې د روغتيا د ساتلو دپاره څه کول په کار دي.

## د روژې روغتيايي ګټې څه دي؟

که څه هم مسلمانان روژه اصلاً د هغې د روغتيايي ګټو لپاره نه نيسي،خو بيا هم روژه د وينې قند ، غوړ او کولسترول کموي، او د وينې لوړ فشار ښکته کوي. له همدې امله د هغو کسانو دپاره ښه علاج ګڼل کيداې شي کوم چې په خفيفه او ثابت ډول د چاقۍ، شکرې اويا لوړ فشار په ناروغيو اخته وي، او د وينې کولسترول يې لوړ وي.

## دځينو مهمو عامو ناروغيو سره د روژې ارتباط

د اسلامي لارښونو سره سم ماشومان، ناروغه کسان، مسافر او هغه ښځې چې کوچنيو ماشومانو ته شيدې ورکوي او يا د

ketabton.com - The Digital Library



میاشتنې عادت سره مخامخ وي د روژې د نیولو نه معاف دي. که ځینې ناروغان د مختلفو عواملو له امله د روژې نیت ولري نو لاندنیو ټکو ته توجه په کار ده:

***د قند diabetes یا شکرې په ناروغۍ اخته کسان:*** که چیرې ددوی ناروغي پرته له درملو یواځې د غذایي رژیم په وسیله کنټرولیږي، نو امید دئ چې د روژې په نیولو او وزن په کمیدو سره ددوې ناروغي یا بیخي له منځه لاړه شي او یا یو څه ښه والې ومومي. خو کوم کسان چې د پرهیز سره د خولې له لارې د وینې د شکرې د کمولو درمل orinase استعمالوي او دوی د روژې د نیولو تصمیم نیسي، نو دوې ته ډیر احتیاط نه کار آخیستل په کار دي. دوې باید د خپل معالج ډاکټر په مشوره ددرملو اندازه ددریو برخو نه یوې برخې ته کمه کړي، او د سهري په ځاې یې د شپې لخوا د روژه ماتي په وخت واخلي. که چیرې په دوې کې د ورځې لخوا د وینې د قند د کمیدو نښې نښانې څرګند یږي نو بیا باید سمدلاسه روژه ماته کړي. د شکرې په ناروغۍ اخته هغه ناروغان چې انسولین اخلي، دوې ته توصیه کیږي چې روژه ونه نیسي، او که چیرې دغه کسان په خپل مسئولیت روژه ونیسي، نو بیا باید تر سخت مراقبت لاندې ونیول شي، او د انسولینو په اندازه کې یې ډیر زیات کمښت راشي.

***دوینې په لوړ فشار او د زړه په ناروغیو اخته کسان:*** کوم کسان چې د وینې په معمولي او یا متوسط لوړوالي اخته وي، او

ketabton.com - The Digital Library



وزن يې هم ورسره زيات وي، دوې بايد تشويق شي چې روژه ونيسي. دا ځکه چې د روژې نيول ددوې د وينې د فشار د ښکته کيدو سره مرسته کوي. دوې ته په کار دي چې د خپل معالج ډاکټر سره هم د درملو د اندازې د سمولو په هکله مشوره وکړي. مثلاً که چيرې دوې Diuretic يا په اصطلاح د اوبو ګولۍ اخلي، نو د وجود نه د ډيرو اوبو د ضايع کيدو د مخنيوي دپاره بايد د هغې اندازه کمه کړي. خو هغه کسان چې د وينې فشار يې ډير زيات وي، او يا د زړه په ناروغيو اخته وي، بايد روژه ونه نيسي.

***په نيم سري يا migraine اخته کسان:*** په migraine اخته ناروغان د روژې له امله په وينه کې ازادو شحمي اسيدونو د زياتوالي له کبله د ناروغۍ د شدت سره مخامخ کيداې شي. دوې ته توصيه کيږي چې د ناروغۍ د حملې په وخت کې روژه ونه نيسي.

***هغه ښځې چې اميدواره وي او يا ماشوم ته شيدې ورکوي:*** که چيرې د اميدوارۍ په وخت کې د اميدوارې ښځې د روغتيايي حالت د خرابوالي او يا ماشوم ته د زيان او ضرر د رسيدو ويره موجوده وي، او يا د روژې له امله د شيدې ورکوونکې مور او يا ماشوم روغتيا ته خطر متوجه وي، نو روژه دې نه نيسي او د معالج ډاکټر سره دې مشوره وشي.

ketabton.com - The Digital Library



## په روژه کې د روغتیا د ښه ساتلو د پاره سپارښتنې

د روژې په مبارکه میاشت کې د روغو کسانو د روغتیا د ښه ساتلو د پاره صحي غذایي رژیم ته ډیره توجه په کار ده. ددې د پاره چې روژه په آسانۍ سره تیره شي او د روژې د روحاني گټو نه په ښه توگه استفاده وکړای شو، نو زمونږ خوراک باید د عادي او نورماله خوراک سره توپیر ولري. خوراک تر ممکنې اندازې پورې نه یوائې داچې باید ساده وي، باید داسې عیار شي چې وزن په یوه حال وساتي. خو که د چا وزن زیات وي، نو بیا د روژې میاشت د وزن په سمولو کې زیاته مرسته کولاې شي. په روژه کې باید داسې خواړه واخیستل شي چې زیات fibers یا الیاف ولري، او د ژر هضمیدو په ځاې ورو-ورو هضم شي. پدې ډول خوړو کې د غنمو، اوربشو، دالو، لوبیا اوبې جوشه وریجو په شان شیان شامل دي.

په روژه کې سهارۍ ډیر اهمیت لري. څیړنو له پخوا راهیسې ښودلې چې سهارۍ یا په عادي میاشتو کې سبانارۍ په ورځني خوړو کې زیات اهمیت لري. دا ځکه چې دشپې د تیریدو نه وروسته سبانارۍ او په روژه کې سهارۍ یا چرگ بانگۍ نه یوائې داچې د وجود د اړتیا وړ اساسي غذایي خواړه برابروي، بلکې د لوږې له امله پیداشوې ښې نښانې لکه سرخوږۍ، ستړتیا، ناراحتي او خوبوړتیا هم له منځه وړي.

بله خبره چې ډیر اهمیت لري هغه د خوړو د مختلفو ډولونو او متوازنه خوړو نه استفاده ده. پدې خوړو کې د وچې ډوډۍ،

ketabton.com - The Digital Library



سریالو، تازه میوې او ترکارۍ، غوښې او کبانو، شیدو، پنیر او مستو برخه مهمه ده. غوړجن او خواږه مواد چې ځومره کم وي، هومره ښه وي.

د زیاتې مالګې داستعمال ځخه دې هم ډډه وشي. له بله پلوه مایعات او اوبه باید زیات واخستل شي. دداسې مایعاتو په ځای چې کافئین ولري د ساده اوبو استعمال ښه دئ، دا ځکه چې کافئین ادرار یا تشې بولې زیاتوي او د وجود نه د اوبو ضایع کولو سره مرسته کوي. په لنډډول باید ووایم چې په روژه کې سره شوي او غوړ خواړه ښه ندي، زیاته خوړه ښه نده، په سهارئ کې ډیر خوراک ښه ندئ، او د ډیر چای ځکل هم ښه ندي.

د روژې میاشت د سګرټو او تنباکو د استعمال د پرېښودلو دپاره هم ښه موقع ده.

په روژه کې د قبضیت د مخنیوي دپاره د سبوس داره یا تورې ډوډۍ خوراک، د زیاتو مایعاتو ځکل او داسې خوړو خوړل ښه دي چې زیات الیاف ولري. کوم کسان چې د معدې زخم لري، دوې دې د ډاکټر په مشوره د هغې دپاره درمل واخلي.

کوم کسان چې د پښتورګو د کاڼو سابقه لري، دوې ته په کار دي چې زیات او اضافي مایعات واخلي. که څه هم خولې، غاښونو او اوریو ته هر وخت پاملرنه په کار ده، خو په روژه کې ورته ریاته توجه په کار ده ♦

ketabton.com - The Digital Library



# دغړو پیوند او بخښل

دغړو پیوند یا Organ Transplant دیوه تن نه بل ته (او یا هم د ناروغ د خپل وجود دیوې برخې نه بلې برخې ته) د یوه غړي او یا د غړي د یوې برخې پیوند ته ویل کیږي، چې مقصد یې د اخیستونکي کس د خراب شوي او یا له کاره ولیدلي غړي بدلول دي.

دغړو بخښل یا Organ Donation هغو کسانو ته دغړو تحفه ده چې د ژوند د ژغورلو دپاره هغې ته اړه لري. د غړو بخښل یا تحفه کول یا په نژدې وخت کې د وفات شوي کس او یا هم د ژوندی انسان نه د غړو او انساجو ویستل او بل تن ته د هغې انتقال او پیوند ته ویل کیږي. دا غړي او انساج د جراحي عملیاتو سره د وجود نه اخیستل کیږي او د عملیاتو په پای کې زخمونه بیرته گنډل کیږي. دهر عمر خلک غړي او انساج بخښلای شي، او هغې سره هر کال د سلهاوو کسانو ژوند ژغورل کیږي.

## کوم غړي پیوند کیدای شي؟

زړه (قلب)، پښتورگي (گردې)، سږي (ششان) او ځگر هغه غړي دي چې په بریالیتوب سره پیوند کیدای شي. سربیره پر دې د

ketabton.com - The Digital Library



هډوکو ماغزه، د سترګو قرنیې، د ورید رګونه، د زړه نیچې یا والوونه، پوستکې، او پلې هم بل کس ته تحفه او پیوند کیداې شي.

د غړو د پیوند دتاریخي پیښلیک لنډیز

- په ۱۹۰۳ م کال کې د قرنیې بریالې پیوند
- په ۱۹۵۴ کال کې د ژوندي پښتورګي پیوند
- په ۱۹۶۲ کال کې د مړه شوي کس نه د اخیستل شوي پښتورګي پیوند
- په ۱۹۶۶ کال کې د پانقراص د غدې پیوند
- په ۱۹۶۷ کال کې د ځیګر لومړې بریالې پیوند
- په ۱۹۶۷ کال کې د زړه پیوند
- په ۱۹۸۱ کال کې د زړه او سږو یوځایي پیوند
- په ۱۹۸۸ کال کې د کوچنیو کولمو پیوند
- په ۱۹۹۸ کال کې د لاس پیوند
- په ۲۰۰۵ کال کې د مخ د یوې برخې بریالی پیوند
- په ۲۰۰۶ کال کې د نارینه تناسلي غړي پیوند

## د غړو او انساجو د پیوند تاریخچه

که څه هم د ناروغیو او ټپونو له امله د وجود د ناروغه شوو او له کاره لویدلو غړو او انساجو د بدلولو او نوي کولو هیله شاید د طبابت د تاریخ هومره قدامت ولري، خو انسانانو یوازې په

ketabton.com - The Digital Library



نولسمې او شلمې پیړۍ کې هغه علمي او ساینسي پوهه تر لاسه کړه د کومې په مرسته چې د غړو د پیوند عصري طبابت ممکن شو. په لومړي سر کې د ۱۹۰۰ او ۱۹۲۰ کلونو په منځ کې د هډوکو، پښتورګو، پوستکي په شان پستو انساجو او د سترګو د قرنیې پیوند په بریالیتوب سره تر سره شو،اوبیا په ۱۹۵۴ م کال کې ډاکټر مورې (Dr. Murray) وکړای شو چې په بریالیتوب سره د پښتورګو په شان لویو غړو پیوند ترسره کړي. البته د غړو د پیوند بریالیتوب د اخیستونکي وجود د دفاعي سیستم لخوا د بخښونکي نا اشنا غړي په قبلولو او نه قبلولو پورې اړه لري، خو د ۱۹۷۸ م کال راهیسې د نوو درملو په جوړیدو سره دغه ستونزه تر زیاتې اندازې پورې حل شویده.

## د پیوند دپاره دانساني غړو منابع

دغړو د پیوند یوې نړیوالې سروې ښودلې چې په لویدیزې نړۍ کې د پیوند شوو غړو زیاته برخه د هغو کسانو نه لاس ته راځي کوم چې په نژدې وخت کې مړه شوي وي. دوې یا په خپل ژوند د مرګ نه وروسته د خپلو غړو د بخښلو وصیت کړې وي، او یا یې هم خپلوانو دمرګ په وخت کې د غړو د بخښلو فیصله کړې وي. د پیوند شوو غړو یوه کوچنۍ فیصدي هم د خون شریکه ژوندیو خپلوانو لخوا بخښل کیږي. خو په اسلامي ملکونو کې حالات سره توپیر لري. هلته د پیوند دپاره ګڼ شمیر غړي د ژوندیو خپلوانو لخوا هدیه کیږي، نور یې د بیوزلو کسانو نه په پیسو یا تګۍ او زور آخیستل کیږي، او ځینې ملکونه لکه کویت یې له بهره واردوي.

ketabton.com - The Digital Library



## اسلام او د غړو بخښنل

پدې کې شک نشته چې د وجود ځینې غړي، پداسې حال کې چې نور لا ښه کار کوي، له کاره لویدلای شي. د طبابت وروستیو پرمختګونو د علمي شواهدو په استناد ښودلې چې که دغه ناروغه او له کاره غورځیدلي غړي روغو غړو سره بدل شي نو د وجود ماشین د یوه غړي د خرابوالې له امله د مرګ په ځای خپل فعالیت ته دوام ورکولای شي. انسان که مسلمان وي او که نه، اشرف المخلوقات ګڼل شوې، او د فطري لوړوالي او شان خاوند دئ. شریعت انساني وقار ته په درنه سترګه ګوري او د انسان د ژوند ساتنه کوي. خدای هغو کسانو ته اجر او بدل ورکوي کوم چې ژوند ژغوري. ***" هغه څوک چې د یوه تن ژوند وژغوري، داسې دئ لکه چې د ټولو انسانانو ژوند یې ژغورلې وي" (دپنځمې سورې د ۳۲ آیت ژباړه)***. په یوه حدیث شریف کې هم راغلي چې ***"څوک چې د بل سره مرسته کوي، د خدای له لورې به ورسره مرسته وشي"***. نو پدې اساس د ژوند د ژغورلو په غرض د غړو پیوند (بخښنل او اخیستل) روا دي او د مختلفو اسلامي معتبرو ادارو عالمانو په اتفاق سره منلې چې د غړو بخښنل روا او په ځینو شرایطو کې لا ضروري دي. پدې ډله کې لاندنۍ مؤسسې په مسلمانانو غږ کوي چې د پیوند د پاره غړي و بخښي:

- د اسلامي کانفرانس د ادارې د شریعت اکاډمي (کوم چې د ټولو ملکونو نمایندګي کوي).
- د سعودي عربستان د علماؤو ستره شورا

ketabton.com - The Digital Library



- د ایران مذهبي چارواکي
- د مصر د الازهر پوهنتون
- د اسلامي فقهې اکاډمي.

دغه وروستنۍ مؤسسه د اسلامي کانفرانس لخوا مسلمانانو ته د ورپیښو ډلیزو ستونزو د بحث او هغې ته د اسلامي ځوابونو د وړاندې کولو دپاره د اسلامي نړۍ د علماؤو او فقهاوو په ګډون جوړه شویده.

## دغړو د بخښلو او پیوند شرایط څه دي؟

- د غړو پیوند باید د روغتیایي اړتیا له کبله وي، او د علاج یوائینۍ مؤثره طریقه ګڼل شوي وي.
- د ناروغ دپاره د ګټې احتمال موجود وي.
- د غړي بخښونکي او آخیستونکي دواړه سره مؤافقه ولري.
- دغړي د بخښونکي روغتیا ته د دایمي زیان د رسولو مخنیوې وشي.
- د پیوند د پاره غړې په وړیا توګه ورکړ شوې وي. (د انساني غړو سوداګري روا نده).

مأخذ او د زیاتو معلوماتو دپاره وګورئ:

- د اسلامي کانفرانس د ادارې اسناد
- د اسلامي فقهې د اکاډمۍ اسناد
- د طبي فقهې د اتم سیمینارپریکړې
- د طبي ساینس اسلامي اداره
- د شمالي امریکې د اسلامي طبي ټولنې پریکړې ✦

ketabton.com - The Digital Library



# جينونه، ارثيت او د ارثي خواصو آزمايښت

جينونه (Gene) په ژونديو موجوداتو کې د وراثت د انتقال مسئوليت لري. دوراثت نه زمونږ مقصد د پيسو او نورو شتمنيو ميراث نه، بلکه تر هغې هم مهم هغه ميراث دئ چې د پيدا ايښت له وخته دمور پلار نه اولاد ته د فزيکي (لکه سترګو او ويښتانو درنګ ) او ځينو روحي خصوصياتو په بڼه رسيږي. جينونه د "ډي اين اې " (DNA) نه جوړ شوي او د حجراتو يا سلولونو په مرکز يا هسته کې ځاې لري.

د جينونو د موجوديت او دهغو په وسيله راتلونکو نسلونو ته د ځينو خصوصياتو او ځانګړتياوو د انتقال موضوع د لومړۍ ځل دپاره په ۱۸۶۰ کال کې د مينډيل (Mendel) له خوا هغه وخت مطرح شوه کله چې يې د ويانا په ښار کې د خپلې کليسا په بڼ کې د پليو (نخودو ) ارثي خواص څيړل. نن د ساينس او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره پدې هکله ډير زيات معلومات ترلاسه شوي، د DNA د څيړنو او تحليل امکانات برابر شوي، د انساني جينونو د نقشې په جوړيدو کار شوې او د يوه ژوندي موجود نه بل ته د ارثي خصوصياتو نقلول ممکن شويدي.

ketabton.com - The Digital Library



## جنيټيک بدلون او سمون څه ته وايي؟

تاسې به د Biotechnology یاحیاتي تخنیک او Genetic Modification یا ارثي بدلون او سمون اصطلاحات چې ډېر ځله يو د بل پر ځای استعمالیږي اوریدلي وي. د Biotechnology یا حیاتي تخنیک په ذریعه ژوندي موجودات یا د هغې ځینې برخې لکه انزایمونه د پنیرو، مستو، شرابو او درملو په شان موادو په جوړیدو کې استعمالیږي. خو ارثي بدلون او سمون هغې طريقې ته ويل کيږي په کومې کې چې د يوه ژوندي موجود لکه نبات، حیوان یا بکټریا جینونه په بل کې ورګډ او په نتیجه کې د هغې يو یا د يوه نه زيات خصوصيات د تل دپاره بدل کړاې شي. ددې طريقې له لارې د نباتاتو او څاروو اصلاح شوي نسلونه منځ ته راغلي چې که له يوې خوا ګټه لري نو له بلې خوا د لانجې وړ ګڼل کيږي.

## د جنيټيک بدلون او سمون له لارې اصلاح شوي خواړه او څاروي

نن د مخ په انکشافه ملکونو په ګډون ډیرو هیوادو کې د اصلاح شوو فصلونو نه ګټه اخيستل کيږي، خوله کومه ځايه چې نوې تکنالوژي د ګټې په څنګ کې تاوانونه هم لري، نو د ارثي خواصو د بدلون له لارې منځ ته راغلي خواړه او څاروي هم څرګندې او پټې ستونزې لري چې په لنډ ډول يې ذکر کوو:

ketabton.com - The Digital Library



### ۱. ښه ارزښتونه:

- د غَلو- دانو د خوند او کیفیت ښه والی، په لنډ وخت کې د فصلونو رسیدل، د حاصلاتو زیاتوالی ، د هوا د بدلون، ناروغیو او حشراتو په وړاندې د مقاومت زیاتوالی او د نوو ډولونو او محصولاتو منځ ته راتګ
- په حیواناتو کې د مقاومت زیاتوالی: لږ خوراک ته اړتیا؛ ښه روغتیا؛ د شودو، غوښې او هګیو زیاتوالی
- په محیط او چاپیریال کې د خاورې، اوبو او انرژۍ سپما؛ د حشراتو او هرزه ګیاه ګانو د کنټرول ښې لارې چارې
- په ټولنه کې دنفوس د زیاتوالي د پاره د ډیرو خوړو برابرول

### ۲. ستونزې:

- خوندي توب: د انسانانو په روغتیا احتمالي ناوړه اغیزې لکه د حساسیت ښودل، د انتي بیوتیک درملو په وړاندې د مقاومت د ښبو انتقال او ناپیژندل شوي ناوړه اثرات
- لاس رسیدنه: د نړۍ د خوړو په پیداوار د لږ شمیر کمپنیو انحصار؛ په صنعتي ملکونو د وروسته ساتل شوو هیوادونو د اتکاء زیاتوالی، او د پردیو لخوا د طبیعي زیرمو او منابعو استثمار
- اخلاقي قوانین: د طبیعي موجوداتو په ذاتي ارزښتونو تیری؛ د ژوندیو موجوداتو په مختلفو جنسونو کې د جینونو د ګډون ساخته کاري؛ په حیواناتو کې د نباتاتو او په نباتاتو کې د حیواناتو د جینونو په ګډون اعتراض او په حیواناتو د روحي فشار زیاتوالی

ketabton.com - The Digital Library



- په تولنه کې د نوو پرمختګونوڅخه د شتمنو هيوادونو ناوړه استفاده

## په ناروغيو کې د جينونو برخه

له کومه ځايه چې جينونه د وجود د حجراتو وده، ترميم او وظايف کنترولوي، نو د ناقصو او بدل شوو جينونو له کبله ګڼ شمير ناروغۍ منځ ته راتلاې شي چې ساه لنډي (asthma) او دقند يا شکرې ناروغي يې عام مثالونه دي. دا ډول ناروغتياوې که د مورپلار نه د ناقصو جينونو د اخيستلو له کبله وي، د ارثي ناروغيو په نامه يادېږي، او که دمور په رحم کې د درملو او ځينو نورو عواملو له امله پيدا شوي وي، د مورزادي ناروغيو په نامه يادېږي.

## جنيتيک سلا مشوره او علاج څه ته وايي؟

د انساني جينونو په هکله د معلوماتو د لاسته راوړو يو هدف هم د جينونو د علاج له لارې د دغو ارثي او جنتيکو ناروغيو درمل دي. د کورنۍ تاريخچې او روغتيايي ريکارډ د کتلو، د وينې يا انساجو د نمونو د جنيتيکي ازميښت، د څېړنو د نتايجو تحليل، او د راتلونکو اقداماتو په هکله د تصميم نيولو د مرستې جريان ته جنيتيکه سلا مشوره ويل کيږي. جنيتيک علاج د ناروغيو د پيداکونکو مسئولو ناقصو جينونو د سمولو هغو طريقو ته ويل کيږي په کوم کې چې د ناقصو جينونو په ځاې روغ جينونه اچول کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## اسلام پدې هکله څه وایي؟

د اسلامي فقهې له نظره ددغې موضوع د ژورې څیړنې دپاره د ۱۹۹۸ کال د اکتوبر په میاشت کې د اسلامی فقهاوو، ډاکټرانو، دواسازانو، بیالوژۍ د متخصیصینو او نورو ساینس پوهانو په ګډون د اسلامي فقهې د اکاډمۍ په ملګرتوب د روغتیایي ساینس د اسلامی ادارې خاص یوولسم سیمینار دغه لاندنۍ عمومي او خاصې سپارښتنې کړیدي:

- د قرآن کریم د اولسمې سورۍ د اویایم آیت په ملاتړ، خدای (ج) انسان په ښه توګه پیدا کړئ او هغه ته یې تر نورو مخلوقاتو لوړه درجه ورکړیده. په انساني اساسي جوړښت کې هر راز لاس وهنه، او پرته له کوم مقصده په تجربوي توګه د هغه د جنیتیکي نقشې بدلول به د خدای (ج) له لوري هغه ته په ورکړ شوي لوړ مقام تیرئ وي.
- د نه دیرشمې سورۍ د نهم آیت سره سم، اسلام د پوهې او علم دین دئ کوم چې په جوړونکو علمي څیړنو هیڅ راز بندیز نه لګوي. مسلمان ساینس پوهان باید د داسې څیړنو مخکښان اوسي.
- د دوهمې سورۍ د یوسلو پنځه نوویم آیت د لارښونو سره سم، اسلام د انسان د روغتیا د ساتنې او خطر نه د ځان د ژغورلو سپارښت کوي. پردې برسیره، اسلام د ارثي او کسبي ناروغیو په علاج خاص ټینګار کوي. او دا په هیڅ ډول د خدای د رضا د منلو د زده کړو سره تصادم نه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



- د يوځلويښتمې سورى د دريپنځوسم آيت سره سم د انساني جينونو دبشپړې نقشې له مخې د جينونو پيژندنه د ځان د پيژندنې هڅه ، او پدې توګه د خالق خداى د قدرت منل دي. او له کومه ځايه چې دا د ارثي ناروغيو او په هغې د اخته کيدو د امکاناتو په پيژندنه کې مرسته کوي، او ځينو ناروغيو په مخنيوي او علاج کې د طب او روغتيا په علم کې ارزښتناکه زياتوالې راولي، نو اسلام ته د منلو او تشويقولو وړ ده.
- پدې سيمينار کې مؤافقه وشوه چې د ناروغيو د مخنيوي او علاج دپاره د جنيتيک بدلون او سمون نه ګټه واخيستل شي، خو د اسلامي شريعت د ځينو ملحوظاتو له مخې دې د نطفې او جنسي حجراتو د ارثي خصوصياتو د بدلون نه ډډه وشي✦

ketabton.com - The Digital Library



# امیدواري (حمل)

امیدواری یا (حمل) د ښځو او د هغوې د کورنیو په ژوند کې یوه خورا ډیره مهمه او له هیجانه ډکه پیښه ده. امیدوارۍ سره د خوشالتیا د احساس په څنګ کې د مور او ماشوم د روغتیا او راتلونکي په هکله د شک، نامعلومتیا، تشویش او اندېښنو ستونزې هم ملګرې وي.

که څه هم د انسان د زیږیدلو او پیداکیدلو موضوع ته د پخوا زمانو راهیسې توجه شوېده، خو له یوې خوا د نسل د تولید په هکله د علمي او سمو ژورو معلوماتو د نشتوالي له امله دوخت په تیریدو سره په دې هکله خورا زیاتې غلطۍ او خرافاتي نظریې رامنځ ته شویدی، او له بلې خوا د طبابت او ساینس د پرمختګ له امله نوې پوښتنې، اخلاقي مسایل او ستونزې رامنځ ته شوې، چې مونږ به یې په لنډ ډول د څیړلو هڅه وکړو.

## د امیدوارۍ پیل

امیدواري له هغه وخته پیل کیږي کله چې د نارینه او ښځې د جنسي حجراتو (سپرم او ښځینه هګۍ یا ovum) د یو ځاې کیدو له امله القاح شوې حجره (zygote) یا نطفه جوړه شي. د همدغې

ketabton.com - The Digital Library



واحدې حجرې د جوړېدو نه د ماشوم تر زیږېدو پورې چې په اوسط ډول ۲۶۲ ورځې یا ۳۸ اونۍ (هفتې) یا ۹ قمري میاشتې دوام کوي، دمور په وجود کې یو لړ داسې کړکیچن (مغلق) بدلونونه منځ ته راځي د کومو په نتیجه کې چې د ماشوم ودې، روزنې، پالنې او تغذیې ته یو خوندي اومحفوظه چاپیریال (محیط) برابرشي او په نتیجه کې تر زیږېدو وروسته ماشوم د مور د وجود نه بهر په جلا ډول د ژوند کولو قابلیت پیدا کړي.

## د ماشوم د جنسیت ټاکنه

د هلک یا انجلۍ ماشوم جنس هم د هګۍ د القاح او نطفې د جوړېدو په وخت کې ټاکل کیږي، او همدغه ابتدائي حجره کوم چې د مور او پلار دواړو نه ارثي خواص اخلي، د یوه نوي او بیل شخص د جوړېدو پیل وي. د انسان حجرات۲۳جوړې (۴۶) کروموزومه لري چې له هغې جملې نه یې یوه جوړه جنسي کروموزومونه دي. کروموزومونه د فنر په بڼه د میلیونونو جینونو د یوځای کیدو نه جوړ شوي هغه جوړښتونه دي چې د "ډي این ای" DNA په ګډون ارثي معلومات انتقالوي، او د ماشوم د جنس په ګډون د سترګو، او ویښتو د رنګ، څیرې، ښایست، لوړوالي او ټیټوالي، قوت او کمزورۍ په شان نور خصوصیات تعینوي.

## د جنس په ټاکلو کې د پلار رول

جنسي کوموزومونه د X او Y کروموزومونه دي، کوم چې په ښځو کې XX او په نارینوو کې یو X او یو Y وي. د نارینوو

ketabton.com - The Digital Library



او ښځو جنسی کروموزومونه د جوړې په ځای یواځې یو کروزوم لري او د دواړو د یوځای کیدو نه د نوی ماشوم القاح شوې نطفه جوړیږي. څرنگه چې ښځه یواځې د X کروموزوم لري، نو د ماشوم د جنس ټاکل په سړي پورې اړه لري، په دې ډول چې که د هغې X د ښځې د X سره یو ځای شي، نتیجه به یې XX یا انجلۍ وي ، او که د هغې Y د ښځې د X سره یو ځای شي، نتیجه به یې YX یا هلک وي.

## د مور په رحم کې د جنین وده او تکامل

د انسان وده یوه دوامداره پروسه ده په کوم کې چې واحده القاح شوې حجره یا نطفه په دوو ، څلورو ، اتو ، شپاړسو ، دوه دیرشو او نورو حجراتو بدلیږي. او ددغه تقسیم، پرمختللي بدلون، هجرت، ودې او توپیر له لارې د ګڼو حجراتو او انساجو په لرونکي انسان بدلیږي:

- د القاح نه یوه هفته وروسته نطفه رحم ته هجرت کوي او د هغې په پوښ کې ځای په ځای کیږي. د ودې پدې ډیر حساس او مهم پړاو کې هغه د رشیم یا embryo په نامه یادیږي. پدې پړاو کې چې ۸ هفتې دوام کوي، وده ډیره چټکه وي، سر، غوږونه، پوزه، سترګې او خوله جوړیږي، لاسونه او پښې څرګندیږي.
- د اتو اونیو وروسته رشیم د انسان په بڼه پیژندل کیداې شي، او د جنین یا fetus په نامه یادیږي. پدې پړاو کې حیاتي غړي لکه زړه، سږي او دماغ انکشاف او وده کوي. پدې پړاو کې

ketabton.com - The Digital Library



هم وده چټکه وي او د زیږیدو تر وخته وزن په اوسط ډول تر ۷ پونډه یا ۳ کیلوگرامه پورې زیاتیږي.

## دعلمي څیړنو او قرآني ارشاداتو سمون

دنن نه ۱۴۰۰ کاله مخکې، کله چې نه خومایکروسکوپ اختراع شوې ؤ، نه ښځینه جنسي حجرات کشف شوي ؤ، او نه هم د نوو عصري معلوماتو نښې نښانې څرگندیدې، قرآن کریم په مختلفو برخو کې د امبریولوژۍ یا انساني embryo او جنین د مطالعې او پیژندنې په هکله داسې مفصله او دقیق معلومات ورکړي چې نن یې په لویدیزه نړۍ کې ددې علومو پوهان هک پک کړیدي. راشۍ چې د بیلگې (نمونې) په توگه لاندنیو مثالونو ته ځیر شو:

- د سپرم د یوه څاڅکي نه د انسان جوړیدنه: **مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ** (د عبس سورۀ، ۱۹ آیت)؛ **أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ** (د القیامت سورۀ، ۳۷ آیت)
- د نارینه او ښځې د ترشح شوي مایعاتو د مخلوط نه د انسان خلق کیدل: **خَلَقَ الإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ** (دالنحل سورۀ، ۴ آیت )
- د مور په رحم کې د نطفې ځاې په ځاې کیدل: **ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ** (دالمؤمینون سورۀ، ۱۳آیت)

ketabton.com - The Digital Library



- د رحم په دیوال پورې د نطفې ځوړندیدل، او د هغې نه د هډوکو جوړول او په غوښې د هغې پټول (پوښل): **ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ** (دالمؤمنون سورۀ، ۱۴آیت)
- دمور په رحم کې د تیارو په دریو پردو کې، یو پر بل پسې، پړاو په پړاو د انسان جوړیدنه: **يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ** (دالزمر سورۀ، ۶آیت)

د دریو پردو تیاره اکثره اوسني مفسرین د ګیډې دیوال، رحم او هغه کڅوړه ګڼي چې جنین په کې پروت وي. په زړه پورې خو لا داده چې دا هره پرده په خپل وار د دریو طبقویا پردو نه جوړه شویده-د ګیډې ددیوال درې مختلفې عضلې، د رحم جوړوونکي درې طبقې او د امنیوتیک اوبو د کڅوړې درې طبقې. د مور په رحم کې د جنین د ودې او انکشاف په اړه پورتني قرآني ارشادات د نني عصري علومو د تشریحاتو سره بشپړ مطابقت لري♦

ketabton.com - The Digital Library



# شنډتوب يا عقامت

شنډوالې يا عقامت دنړۍ په مختلفو هيوادو ، په خاصه توگه مخ په انکشافه هيوادو کې بيلابيلې روحي او ټولنيزي ستونزې او لانجې راپيداکړيدي. له بده مرغه دشنډوالي او اولاد د نه لرلو ستونزې زمونږ د افغاني ټولنې يو شمير ښځې هم په خپل کورني او شخصي ژوند کې د ناوړه فزيکي چلند ، تاوتريخوالي، بې توجهۍ، ټولنيز/اقتصادی محروميت، بيلتون او طلاق سره مخامخ کړيدي.

## شنډوالې څه ته ويل کيږي؟

شنډوالې د تناسلي سيستم يوه ناروغي ده په کومه کې چې د نسل د پيداکولو ابتدايي وظيفه سرته رسيدلاې نشي. په بله ژبه، شنډوالې په طبيعي توگه د اميدوارۍ د قابليت نشتوالي ته ويل کيږي. هغه ښځې هم شنډې گڼل کيږي. کومې چې حمل اخيستلاې شي خو د حمل د مودې دپوره کولو نه مخکې په مکرر ډول زيان (سقط) کوي. دا يوائې دښځو ستونزه نده. پدې ناروغۍ نارينه او ښځې دواړه په مساوي توگه اخته کيداې شي.

ketabton.com - The Digital Library



ګڼ شمیر ښځې، که وغواړي نو د وادہ نه وروسته په لومړیو شپږو میاشتو کې امیدواره کیدای شي. په اوسط ډول په سلو کې اتیا جوړې د یوه کال، او په سلو کې نوي تنه ددوو کلونو په موده کې حمل آخلي. تر دې وروسته د امیدوارۍ د مخنیوي د طریقو د استعمال نه پرته او کوښښ سره سره نه امیدواره کیدل، د اندیښنې وړ ګڼل کیږي او روغتیایي مرستې ته اړه لري.

څرنګه چې دعمر په زیاتیدو سره په ښځو کې د امید د اخیستلو امکانات په طبیعي توګه کمیږي، نوکه چیرې د ښځې عمر د **۳۵** کلونو نه زیات وي، او تر شپږو میاشتو پورې امیدواره نشي، نو روغتیایي مرستې ته به اړه (ضرورت) ولري.

## دعقامت یا شنډوالي علتونه

د نسل د بقا او امیدوارۍ په مغلقه او کړکیچنه پروسه کې په ښځې او میړه پورې مربوط مختلف عوامل رول لوبوي. تقریباً په سلو کې لس واده شوې جوړې د شنډوالي د ستونزې سره مخامخ کیدای شي. څیړنو ښودلې چې دا په سلو کې **۳۵** په نارینه، **۳۵** فیصده په ښځې، **۲۰** فیصده په دواړو پورې اړه لري، او د پاتې لس فیصده شنډوالي علت معلوم ندي.

په طبي ادبیاتو کې شنډوالي په لومړني او ثانوي ډولونو ویشل کیږي. په لومړني ډول کې دواده او یوه کال کوښښ نه وروسته هیڅ امیدواري پیښه شوې نه وي. په ثانوي ډول کې یو یا څو ځل

ketabton.com - The Digital Library



امیدواري منځ ته راغلې وي، خو د زیان په وجه ژوندي ماشوم پیدا شوې نوي.

د ښځو په شنډوالي کې لاندني عوامل برخه لرلای شي:

- د هورمونونو د انډول (بیلانس) خرابوالې. د ډیرې مودې دپاره د حمل د مخنیوي د درملو استعمال، روحي فشارونه، چاقي او یا د وزن ډیر کموالې د هورمونونو انډول خراب او مؤقتي شنډوالې منځ ته راوستلای شي. د وخت نه مخکې د میاشتني عادت بندیدل هم شنډوالې منځ ته راولي.
- د تخمدانونو نه رحم ته د هګۍ په انتقال کې ستونزي لکه د نفیرونو (Fallopian Tubes) بندوالې، کوم چې اکثراً د مکروبي ناروغیو او جنسي تماس له لارې خپریدونکو جراثیمو له امله منځ ته راتلای شي.
- د القاح په منځ ته راتګ کې ستونزې، لکه درحم په غاړه کې په طبیعي ډول جوړیدونکي افرازات، کوم چې هګۍ ته د رسیدو نه مخکې سپرم وژني.
- په رحم کې د القاح شوې هګۍ یا نطفې د کرل کیدو یا ټومبل کیدو ستونزې چې د مکروبي ناروغیو، هورمونونو د کمښت او یا تومورونو له امله منځ ته راتلای شي.

دنارینوو په شنډوالي کې لاندني عوامل برخه لرلای شي:

- د سپرمو په جوړیدو کې ستونزه چې د سګرټو او شرابو د استعمال، ځینو درمو، تنګو جامو دا آغوستلو، اوږدې

ketabton.com - The Digital Library



مودې ناروغيو او بلوغ نه وروسته دکله چرک (بغوټو يا Mumps) په شان مکروبي ناروغۍ.

- د علاج د ځينو ډولونو لکه جراحي عملياتو، ځينو طريقواو سرطان ددرملو (کيمو تراپۍ) استعمال.
- د مغزو د ځينو تومورونو له امله د هورمونونو ستونزې.
- په ارثي ډول پيښيدونکي جينيټيکي ستونزې.

په ښځو کې د شنډوالي د علتونو په خلاف، په نارينوو کې د شنډوالي علتونه په آسانۍ سره پيژندل کيداې نشي.

## د شنډوالي د علاج لارې چارې

دشنډوالي په هکله ځينې خلک وايي چې دا گواکې د خدای (ج) رضا ده او بايد چې غاړه ورته کيښودل شي. خو دوې دا هيروي چې عقامت يوه ناروغي ده او د نورو ناروغيو په شان د هغې د علاج لټول د مسلمانانو وظيفه ده. د روغتيايي علومو په پرمختگ سره د شنډوالي په تشخيص، د هغې د علت په پيداکولو او علاج کې هم پرمختگ شويدئ. نن سبا دشنډوالې په سلو کې له ۸۵ نه تر ۹۰ پورې پيښې د عصري درملو او جراحۍ په مرسته د علاج وړ دي. که چيرې د علت پيداکول ممکن نه وي، او يا هم ناروغي د علاج وړ نه وي، نو بيا د عصري ټکنالوژۍ نه مرسته تر لاسه کيداې شي.

## د شنډوالي په علاج کې د لاندنيوطريقو نه گټه اخيستل کيداې شي:

ketabton.com - The Digital Library



أ. درمل، کوم چې تخمدانونه تحریک او د ښځینه هګیو پخولو سره مرسته کوي.

ب. جراحي عملیات، ترڅو بند شوي نفیرونه یا هغه ټیوبونه بیرته آزاد کاندي، کوم چې د تخمدانونو او رحم تر منځ غزیدلي دي.

ج. مصنوعي القاح.

د. دټکنالوژۍ په مرسته امیدواري، یا د علاج هغه لارې چارې په کومو کې چې په لابراتوار کې د القاح په مناسبو شرایطوکې خاصو طریقوسره د ښځې تخمه د هغې د میړه د سپرم سره القاح او څو ورځې وروسته رحم ته نقل کیږي.

## دنوې ټکنالوژۍ په مرسته د شنډوالي علاج

د شنډوالي د ستونزې دپاره ورځ په ورځ ګڼ شمیر خلک د طبي علاج او نوې ټکنالوژۍ نه مرسته غواړي. مونږ به لومړې دنوې ټکنالوژۍ په مرسته د علاج په عامو، موجودو طریقو او بیا دهغوې په هکله د مسلمانو ډاکټرانو او فقهې د پوهانو په دریځ رڼا واچوو.

1. مصنوعی القاح یا **Artificial Insemination**. دا یوه ډیره پخوانۍ ساده، بې درده او چټکه طریقه ده، چې ناروغ پکې د نیم ساعت استراحت نه وروسته کور ته تللای شي. لکه چې د نوم نه یې څرګنده ده، د طبیعي وسیلې په ځاې، پدې طریقه کې د نارینوو سپرم په مصنوعي توګه د ښځې

ketabton.com - The Digital Library



رحم ته پيچکارۍ کيږي. ويل کيږي چه په څوارلسمې پيړۍ کې به عربي قبايلو د خپلو دښمنانو اسپې د اسونو په ټيټ ذات حامله کولې. په ۱۸۹۰ کلونو کې يوه روسي ساينس پوه د لومړي ځل دپاره ددې طريقې نه د ښه او اصلاح شوی ذات د څاروو د نسل د پيدا کولو دپاره کار واخيست. وروسته بيا د هغې نه د ځينو ژوو د نسل د ختميدو دمخنيوي دپاره هم استفاده وشوه. په انسانانو کې د مصنوعی القاح څخه د استفادې لومړۍ ثبت شوې پيښه په ۱۷۹۰ کال کې ديوه سکاټليندی طبيب لخوا د هغې ښځې علاج ؤ چې ميړه يې د ادرارو د نالۍ په معيوبيت اخته ؤ. نن د علاج ددغې طريقې نه د هغو ښځو د اميدواره کيدو دپاره کار آخيستل کيږي چې مړونه يې د نامه نه ښکته فلج وي او يا د تناسلي سيستم په معيوبتونو اخته وي.

2. د رحم نه بهرالقاح يا **Invitro Fertilization**. دا طريقه چې د Test-tube Baby په نامه هم ياديږي، يوه حياتی طبي (biomedical) طريقه ده. دا طريقه عموما د هغو کسانو د پاره استعماليږي په کومو کې چې د ځينو ستونزو او ناروغيو له امله د ميړه سپرم د ښځې تخمې د القاح دپاره رسيدلاې نشي.

پدې طريقه کې (دتبيض په وخت کې) د ښځې د تخمدان نه پخې شوې هګۍ اخيستل کيږي او د هغې د وجود نه بهرپه لابراتوار کې د هغه د ميړه د سپرمو سره يوځای او د القاح او

ketabton.com - The Digital Library



ودې نه وروسته د ښځې رحم ته نقل کیږي. پدې توګه هغه ښځې چې په عادي علاج سره حمل آخیستلای نشي، د طبي ټکنالوژۍ په مرسته د نورمالې امیدوارۍ او اولاد د لرلو هیلې ته رسیدلاې شي.

دنوې ټکنالوژۍ د نوښت نه په استفادې سره نن سبا د امیدواره کیدو دپاره په خاصه توګه په ښځو کې د عمر د زیاتوالي مانعه هم له منځه تللې ده، او زړې ښځې هم د ځوانو ښځو د بخښل شوو تخمو په مرسته امیدواره او د اولاد خاوندان کیداې شي.

3. د کرایي رحم نه استفاده یا **Surrogacy**. دنوې ټکنالوژۍ په مرسته د کرایي مور یا کرایي رحم نه په استفادې سره د اولاد راوړل یوه خورا نوې طریقه ده. کرایي مور هغې ښځې ته ویل کیږي چې د بې اولاده جوړې دپاره دهغوې د اولاد راوړلو سره موافقه کوي. د بل چا د اولاد د قبلونې (ساتنې یا adoption) په خلاف، د کرایي مور په طریقي کې چې په ډیرو مواردو کې په تجارتی بڼه د پیسو په بدل کې ترې استفاده کیږي، د ښځې سره قرارداد کیږي چې دبلې جوړې دپاره حمل واخلي او ماشوم راوړي.

## دنوې ټکنالوژۍ نه راپیدا شوې ستونزې

دساینس او طبابت پرمختګ او د امیدوارۍ دپاره د عصري ټکنالوژۍ څخه استفاده که له یوې خوا ګڼ شمیر کورنیو ته ګټه

ketabton.com - The Digital Library



رسولې شي، نو له بلې خوا هغې سره ګڼ شمیر مهمې طبي، قانوني، اخلاقي اوشرعي ستونزې هم منځ ته راتلاې شي.

د ستونزو په لړ کې د هديه شوو تخمو استعمال، د ماشوم د هويت اونسب د خوندي ساتلو مسئله، د پاتې شوو القاح شوو هګيو د سرنوشت او قانونی حيثيت مسئله، په يوه وخت د زياتو ماشومانو زيږيدل او دهغې له امله د بې مودې ماشومانو او مربوطو روغتيايي ستونزو زياتوالې، د مورد عمر د زياتوالي له امله پيښيدونکي ستونزې، د علاج ملا ماتوونکي مصارف (کوم چې د ډيرو کسانو د قدرت نه بهر دي)، او د مړه شوي سړي د سپرمو راويستل او وروسته د اميدوارۍ دپاره د هغې ساتل، د مثال په توګه يادولای شو.

## د مسلمانو ډاکټرانو او فقهې د پوهانو نظريات

په اسلام کې د خلکو د نسب خوندي کولو او ساتلو ته خاصه پاملرنه شويده، له همدې کبله د عدت په موده کې د ښځې سره نکاح کول او يا د بل چا څخه د اميدوارې شوې ښځې سره نکاح حرامه ګڼل کيږي. داوسنۍ زمانې د روغتيايي ستونزو د علاج دپاره د نوې ټکنالوژۍ د استعمال په هکله په کويت کې د طبی علومود اسلامی اداری د لومړني سيمينار ګډون کوونکو مسلمانوساينس پوهانو، او د فقهې علماوو، او همدا شان داسلام له نظره د منل شوو طريقو د څيړلو په هکله په ۱۹۸۷کال کې د اسلامي فقهاوو دريم مجلس (Symposium) ځينې سپارښتنې کړيدي، چې لنډيز يې په لاندې ډول دئ:

ketabton.com - The Digital Library



- په مصنوعي القاح کوم بندیز نشته، خو د شریعت له مخې د ښځې د پاره پرته له خپل میړه د بل چا د سپرمو آخیستل حرام دي. دا ځکه چې دې سره د ماشوم هویت مغشوش کیږي او په نتیجه کې یې قانوني، اخلاقي او روحي ستونزي منځ ته راځي. د طلاق او مرګ نه وروسته د پخواني میړه د سپرمو نه استفاده هم جایزه نده.
- که چیرې د شنډوالي د علاج نورې طریقې لکه درمل او د جراحۍ عملیات نتیجه ورنکړي، نو په اسلام کې د وجود نه بهر القاح یا invitro fertilization روا ده، خو پدې شرط چې د ښځې او میړه دخپلو تخمو او سپرمو څخه پکې استفاده وشي. د بل چا د بخښل شوو تخمو او سپرمو نه استفاده روا نده.
- په اسلام کې د اولاد راوړل د واده (نکاح) په صورت کې روا دي، او په نکاح کې قرارداد ددوو کسانو (ښځې او میړه) تر منځ دئ. نو ځکه د ټکنالوژۍ په مرسته د اولاد راوړل یواځې د واده شوې ښځې او میړه تر منځ روا دي. د اسلام له نظره دبلې ښځې په رحم کې د القاح شوې هګۍ په کرلو یا د کرایي مور او کرایي رحم نه په استفادې بندیز لګیدلای دئ او داډول امیدواري شرعي نه ګڼل کیږي.
- دالقاح شوو هګیو ساتل یوه اخلاقي لانجه رامنځته کړیده. ښه خو به دا وي چې د امکان په صورت کې یواځې دا ړتیا په اندازه هګۍ القاح او تر هغې زیاتې جوړې نکړای شي. امید دئ د ساینسي تحقیقاتو په نتیجه کې په راتلونکي کې

ketabton.com - The Digital Library



د اضافي هګیو ساتل او د اړتیا په وخت کې د هغې نه استفاده ممکنه شي.

- که چیرې اضافي هګۍ موجودي وي، نو د ډیرو پوهانو په عقیده د شریعت له نظره دا هګۍ په رحم کې تر ځای په ځاې کیدو دمخه کوم ارزښت نلري او په له منځه وړلو کې یې کوم ممانعت نشته. خو ځینې نور بیا په دې عقیده دي چې القاح شوې هګۍ ځکه ارزښت لري چې دا د انسان په پیدا ښت کې لومړې پړاو دئ، نو دهغې د له منځه وړلو، د ساینسي څیړنو دپاره د هغې د استعمال او په طبیعي توګه تر مرګه د هغې د پریښودلو په منځ کې د انتخاب په وخت کې به دغه وروستۍ طریقه ځکه غوره وي چې په هغې کې په څرګنده په ژوند یقیني تیری نه لیدل کیږي♦

ketabton.com - The Digital Library



# د امیدوارۍ مخنیوې (Contraception)

په اسلام کې کورنۍ زیات ارزښت لري او ماشومان د خدای نعمت او تحفه ګڼل کیږي. څرنګه چې په اسلام کې د واده نه پرته جنسی تماس منع دئ، نو طبیعي ده چې د امیدوارۍ د مخنیوی په هکله بحث په واده شوی ښځې او میړه پورې اړه لري.

## د امیدوارۍ د مخنیوې تاریخچه:

دامیدوارۍ د مخنیوی مفکوره کومه نوې مفکوره نه ده، خلکو د زرهاوو کلونو راهیسې د هغې کوښښ کړی. په پخوا زمانو کې څومره چې د وجود د جوړښت او وظایفو په هکله د انسانانو معلومات زیاتیدل، هومره هم د امیدوارۍ د مخنیوی دپاره طریقې راپیداکیدې لکه د واده ځنډول ، د اوږدې مودې دپاره ماشوم ته د شیدو ورکول، د بارورۍ په وخت کی د کوروالی او جنسی نژدیوالی نه ځان ساتل اونور. ددئ تر څنګ د ځینو درملو ، پرهیز او نورو وسیلو نه هم کار آخیستل شویدئ. د میلاد نه ۲۷۰۰ کاله پخوا لیکل شوې هغه طبي چینایي اسناد چې لا تر اوسه پاتی شویدي، څرګندوی چې په هغه زمانه کې هم خلکو د خپلې

ketabton.com - The Digital Library



خوښې سره سم د نسل د پيدا کولو ليوالتيا درلوده. د پاپيروس د بوټو نه جوړ شوي په لومړنيو مصري طبی کاغذونو ليکل شوی د اميدوارۍ د مخنيوی نسخې هم تر لاسه شويدي، دمثال په توګه، د ميلاد څخه ۱۸۵۰ کاله پخوا دکاهون د پاپيروس نسخې.

## اسلامي طب او د اميدوارۍ مخنيوې

په اسلامي طب کې هم د پيړيو راهيسې د اميدوارۍ د مخنيوی طريقې استعمال شويدي. ابن سينا په خپل کتاب "قانون" کې د اميدوارۍ دمخنيوي دپاره د (۲۰) شيانو لست ذکر کړيدئ. اسلامی فيلسوف او طبيب ابوبکر محمد بن ذکريا رازی هم په خپل مشهور "کتاب الحاوی فی ا لطب" يا "په طب باندې جامع کتاب" کې د اميدوارۍ د مخنيوی دپاره (۱۷۶) شيانو ته اشاره کړيده، او د نورو عواملو په څنګ کې يې د مور روغتيا، د مور دښکلا او اقتصادی دلايلو ذکر کريدي.

## د اميدوارۍ د مخنيوي دطريقو ډولونه

د مصنوعي او طبيعي طريقو د استعمال څخه په اميدوارۍ او د هغې د وخت په هکله مرسته ترلاسه کيدای شي. البته د طريقو ډولونه ډير دي او هره طريقه يې په جلا ډول کار کوی. په دغه طريقو کې تر اوسه لا يوازې د پوکنيو او جراحي عملياتو له لارې د شنډولو دوه طريقې د نارينوو دپاره، او نورې ټولې يې د ښځو دپاره دي.

ketabton.com - The Digital Library



أ. دخنډ یا مانعي طریقه: پدې طریقه کې د پوکڼیو، دیافراگم، د رحم د غاړې د پوښ او نورو شیانو څخه استفاده کیږي، کوم چې د ښځې او میړه د تخمو د یوځاې کیدو په لاره کې خنډ او مانعه پیښوي.

ب. هورموني طریقه: پدې طریقه کې د گولیو یا پیچکاریو او ټومبلو په وسیله د هورمونونود استعمال له لارې د ښځو په وجود کې د هورمونی انډول یا بیلانس په بدلون سره د امیدوارۍ مخنیوې کیږي.

ج. میخانیکی طریقه: پدې طریقه کې د رحم دننه د الاتو په ایښیدو سره په رحم کې داسی بدلونونه راځي چې د امیدوارۍ مخنیوې کوي.

د. طبیعي طریقه: د حمل د اخیستلو په ورځو یا د باروری په وخت کې د کوروالي یا جنسی تماس نه د ځان ساتنې په شان تدابیر په طبیعي توگه د امیدوارۍ مخه نیسي.

ه. جراحی طریقه: پدې طریقه کې د جراحي عملیاتو په وسیله په ښځو او نارینوو کې د تخمو د انتقال ټیوبونه یا نلونه بندیږي. د امیدوارۍ دا طریقه د تل دپاره ده او د شنډوالي سبب کیږي.

و. بیړنی یا عاجله طریقه: لکه چې د نوم څخه یې څرگندیږی دا طریقه د امیدوارۍ د نورو طریقو د نه استعمال او یا د کار د نه کولو په صورت کې د سملاسي اغیزې دپاره استعمالیږي.

ketabton.com - The Digital Library



## آیا د امیدوارۍ مخنیوي ته په اسلام کې اجازه شته؟

دانساني ژوند د مختلفو اړخونو په هکله مسلمانان دخپلو پوښتنو دځواب دپاره د پوهې او معلوماتو درې سرچینې لري. لومړې قران، دوهم د پیغمبر (ص) وینا (حدیث) او عمل (سنت)، او دریم د اسلامي فقهاوو اجتهاد.

- په قرآن شریف کې د امیدوارۍ د مخنیوي په هکله کومه اشاره شوې نده خو د امیدوارۍ د مخنیوی مخالفین ډیر ځله د " وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْءًا كَبِيرًا " آیت ته اشاره کوي او هغه د ماشومانو د وژلو په څنګ کې د امیدوارۍ په مخنیوي بندیز ګڼي. د ولادت د پلان کولو پلویان وایي چې دا ډول تفسیر سم ندئ.
- د ګڼ شمیر احادیثو څخه داسې څرګندیږي چې پیغمبر (ص) د امیدوارۍ په مخنیوی خبر ؤ او په خاصو حالاتو کې يې تائیدول.
- داسلامي فقهې پوهان، د طبي ساینس اسلامي اداره او د شمالي امریکې اسلامي طبي ټولنه، د مور دروغتیا، ټولنیزو، اقتصادي او نورو دلایلو په ګډون دګڼو دلایلو په وجه د واده شوو جوړو لخوا د امیدوارۍ د مخنیوي د طریقو د استعمال سره موافقه لري، پدې شرط چې دښځې او میړه دواړو خوښه پکې شامله وي، استعمالیدونکې طریقې بیرته په شاتلونکې وي (د تل دپاره د عقامت سبب نشي)، او په

ketabton.com - The Digital Library



روغتیا ناوړه اغیزه ونلري. دوې د هغو طریقو ملاتړ نکوي، کوم چې د بې مودې ماشوم د زیان (سقط) سبب کیږي.

په ښځو او یا نارینوو کې د جراحي طریقو استعمال په انفرادي کچه د ښځې او میړه دواړو په خوښه یوائې هغه وخت د منلو وړ دئ چې:

- د امیدوارۍ له امله د ښځې روغتیا ته سخت خطر د پیښیدو امکان وي.
- د مخنیوي نورې طریقې یا کار ونکړي او یا په روغتیا ناوړه اثرات ولري.
- د ښځې، میړه او یا دواړو ارثي ( ) ناروغي جنین ډېر خطر سره مخامخ کړي.

د زیاتو معلوماتو او منابعو دپاره ولولۍ:

- پاک قرآن د بنی اسرائیلو (۱۷) سورې ۳۱ آیت
- پاک قرآن د الانعام (۲) سورې ۱۵۱ آیت
- د شمالي امریکې د اسلامي طبي ټولنې د اسلامي طبي اخلاقو سند
- د طبي ساینس د اسلامي ادارې اسناد ♦

ketabton.com - The Digital Library



# کلونینګ یا د ورته شیانو جوړول

کلونینګ چې په عربي کې انتنساخ ترجمه شوی د نن ورځې یوه ګرمه اومهمه موضوع ده . دې موضوع ته هغه وخت دنړیوالو زیاته پاملرنه جلب شوه کله چې په ۱۹۹۷ کال کې په سکاټلند کې د دیوې تجربې په ترځ کې د یوې ګډې (میږې) د وجود یوې حجرې ته وده ورکړشوه او د "ډالي " (Dolly) په نامه په یوی بلې داسې ګډې بدله شوه چې د فزیکی اوارثی خواصو له پلوه اصلی ګډې ته ورته وه.

## کلونینګ څه ته وائي؟

کلون (Clone)په اصل کې یوه یوناني کلیمه ده چه د ورته یا مشابه معنی لری او کلونینګ (Cloning) هم د ورته یا مشابه شئ جوړولو ته وائی. په ژوند پوهنه یا بیالوژی کې هم کلونینګ د یوه ژوندی موجود څخه د بل ورته موجود جوړولو ته ویل کیږی. ساینس پوهان دکلون اصطلاح دهغو مختلفو اوښتونونو او بدلونونو دپاره استعمالوی په کومو کې چه د بیولوژیکی موادو کټ مټ کاپی یا ژینیتیک نقل اخیستل کیږي. د کلون اصطلاح د لومړي ځل دپاره په ۱۹۰۳ کال کې د "هربرت وبر " په

ketabton.com - The Digital Library



نامه یوه آلماني ګیاه پیژندونکي د مکروبونو په شان هغو ژوندیو موجوداتو دپاره استعمال کړه کوم چې په غیر جنسي توګه زیږنده کوي. د یادونې وړ ده چې یو ګڼ شمیر نباتات او ساده حیوانات پرته لدې چې د نسل د بقا دپاره نورو نباتاتو او حیواناتو ته اړه ولری ، له غیر جنسی لاری زیږنده کوي او خپل نسل تولیدوي.

## د کلونینګ تاریخچه

له دوه زره (۲۰۰۰) کلونو راپدې خوا انسانان د پیوند کولو او قلمو له لاری د بوټو او نیالګیو په غیر جنسي تولید بوخت دي. دعصري لابراتوارونو په رامنځ ته کیدو سره په **۱۹۵۸** کال کې د "ستهیوارد " په نامه یوه ساینس پوه ګازره (زردکه) درسیدلې (بالغې) واحدې حجرې څخه د هورمون لرونکو موادو په کلچر کې کلون کړه. په **۱۹۶۴** کال کې "جان ګوردون" لومړنۍ حیواني حجره کلون کړه. شل کاله وروسته دهمدې طریقې څخه په استفادې سره ساینس پوهانو په سویس او امریکې کې په بریالیتوب سره موږکان کلون کړل.

## د حجراتو مختلف ډولونه

د ژوندیو موجوداتو ټول حجرات د جنسی حجراتو د یوځای کیدو یا القاح شوې هګۍ د تقسیمي دو څخه منځ ته راځي. دا حجرات مخکې لدې چې د خاصو کارونو دپاره په اختصاصي بیلابیلو حجراتو یا (Somatic Cells) بدل شي، دتنې یا ریښې د حجراتو (Stem Cells) په نامه یادیږي.

ketabton.com - The Digital Library



**اختصاصي حجرات** ( Somatic Cells): د وجود حجرات د نارینوو او ښځینوو د جنسي حجراتو نه پرته ټول د سوماتیکو حجراتو څخه جوړ شویدي. د سوماتیک کلیمه د یوناني کلیمې سوما نه اخیستل شوي چې د وجود یا ځان معنی ورکوي. دا حجرات د وجود د مختلفو غړو انساج جوړوي لکه د پوستکې، هډوکو، اعصابو، عضلاتو په شان انساج. کله چې تاسو خپل لاس پرې کړئ نو بیا همدا تخصصي حجرات د هغې د جوړولو او ترمیم دپاره نور ورته حجرات جوړوي.

**دتنې یا ستې حجرات** (Stem Cells) په ژوندیو موجوداتو کې هغه حجرات دي چې د ویشلو له لارې د ځان د نوي کولو او په مختلفو اختصاصي حجراتو د بدلیدلو قابلیت لري. د تې لرونکو ژوو د تنې حجرات دوه مهم ډولونه لري:

- دتنې جنیني حجرات (Embryonic Stem Cells) یا هغه حجرات چې د جنین د ودې په لومړنیو مرحلو کې (دالقاح شوې هګۍ څخه **۴-۵** ورځې وروسته کله چې **۵۰-۱۵۰** حجرې جوړې شوي وي)، منځ ته راځي او بیا وروسته ترې د وجود بیلابیل انساج جوړیږي. تر څه وخت دمخه د تنې جنیني حجرات، د تنې د حجراتو د حاصلولو او ترلاسه کولو یواځنۍ منبع وه. او د هغې دترلاسه کولو دپاره به جنین له منځه وړل کیده. خو تیرکال جاپاني ساینس پوهانو یوه داسې طریقه کشف کړه د کوم په مرسته چې د انسان د پوستکي دعادي حجرې څخه د تنې د جنیني حجراتو په شان کار اخیستل کیږي. ددې طریقې په رامنځ ته کیدو سره

ketabton.com - The Digital Library



د تنې د حجراتو د څیړنو په برخه کې د یوه مهم اخلاقي انتقاد دپاره د حل لاره پیدا شوه.

- د تنې لوې او بالغ حجرات چې د وجود په مختلفو برخو کې پیدا کیږي او د ویشل کیدو له لارې مړه او زیانمن شوي حجرات بیا جوړوي. پدې وروستیو وختو کې پدې برخه کې یو ستر پرمختګ په پلاستیک جراحی کې د دا ډول حجراتو نه کار اخیستل ؤ. ډاکټرانو د لومړې ځل دپاره وکړاې شو چې د وازګې یا غوړو د یوې حجرې په مرسته دیوې ښځې د سینې هغه نیمګرتیا او نقص له منځه یوسي کوم چې دیوې سرطاني غوټې د لرې کولو له امله منځ ته راغلې ؤو.

## د "تنی " دحجراتو (**Stem Cells**) اهمیت او رول

د تنې حجرات دروغتیائي څیړنو او انسان د ودې د څرنګوالي په پلټنو کې زیات ارزښت لري. ددې حجراتو څخه د انسان دوجود دهر ډول اختصاصي حجراتو د جوړیدو دپاره کار اخیستل کیداې شي. ګڼ شمیر څیړونکي هیله لري چې یوه ورځ وکولاې شي د تنې د حجراتو په مرسته د زړه ، الزایمر او سرطان په شان ناروغیو علاج وکړي، او د ناروغه او ناقصه غړو د پیوند دپاره کار واخلي.

## د کلونینګ تخنیک

په کلونینګ کې د یوې حجرې ارثي معلومات چې د هستې په جینونو کې وي، داسې حجرې ته نقل کیږي چه له ارثي معلوماتو

ketabton.com - The Digital Library



خالي شوي وي، او په نتیجه کې یوه داسې حجره منځ ته راوستل کیږي چې د ودې او کرلو وړ وي. لکه څنګه چې د هګیو حجرات د یوه نوي مکمله ژوندي موجود د جوړولو قابلیت لري، همدا شان دغه حجرات چې یوشان جینونه لری، د یوه نوي، مکمله ژوندي موجود د جوړولو قابلیت لرلاې شي. د "ډالي" نه مخکې ټولې ګډې به په طبیعي توګه دمور او پلار د تخمو د یوځای کیدو نه راپیدا کیدلې، ډالي لومړنی تی لرونکی ژوې ؤو چې یواځې دیوې هستې د حجرې نه په مصنوعي توګه جوړ شو.

هسته د حجراتو د مغزو په شان وي، یوه احاطه شوې ډبه چې دیوه ژوندي موجود د جوړیدو دپاره د حجرې د اړتیا وړ ټول معلومات لري. دا معلومات د "ډي این ای" (DNA) په بڼه کې وي . دا چې مونږ یوتربله بیسارې توپیر لرو، له همدې امله دئ چې "ډي این ای" مو سره توپیر لري.

## د مصنوعي القاح سره د کلونینګ توپیر

کلونینګ د مصنوعي القاح سره، په کوم کې چې د نارینه تخم په مصنوعی توګه د ښځینه هګۍ سره یوځای کیږي، توپیر لري. په کلونینګ کې د کلون شوي ژوي ارثي خواص د مور او پلار دواړو څخه د اخیستل شوو خواصو د احتمال په خلاف، کټ مټ د هغه یوه ژوی په شان وي، چې د حجرې نه یې استفاده شوي وي. د یادونې وړ ده چې په طبیعي ډول هم کلونینګ پیښیدلاې شي، مثلاً سره ورته غبرګوني . دا سره کټ مټ ورته زیږیدلي

ketabton.com - The Digital Library



جوړې هغه وخت منځ ته راځي چې القاح شوې هګۍ چې د زايګوټ په نامه هم يادېږي، د جنين په دوو حجرو د تقسيميدلو په وخت سره جلا او په دوو بيلو حجرو بدلې شي. دا حجرات بيا هريو جلا-جلا وده کوي او په دوو سره ورته غبرګونو بدلې شي.

## د کلونینګ مختلف ډولونه

لکه چې دمخه ذکر شول، کلونینګ يوه عامه اصطلاح ده چې پخوا به د بيولوژيکي موادو د کاپي کولو يا نقل کولو دپاره استعماليده. کله چې په مطبوعاتو او خبرونو کې د کلونینګ په هکله مطالب خپاره کيږي نو اکثره ددوې هدف يوازې يو ډول کلونينګ وي چې هغه بيا توليدونکې (Reproductive) کلونینګ دئ. خو د کلونینګ نور ډولونه هم شته، او د کلونینګ تکنالوژی د نورو ژونديو موجوداتو د ارثي يا جنتيک غبرګونی د جوړولو نه پرته د نورو اهدافو دپاره هم استعماليداې شي. دکلونینګ ځينې ډولونه په لاندې ډول دي:

أ. د "ډي اين ای" DNA کلونینګ: دا ډول کلونینګ د موليکولی کلونينګ او د جينونو دکلونينګ په نامه هم يادېږي. دا تکنالوژی د ۱۹۷۰ کلونو راهيسی موجوده او د ځانګړو موجوداتو د جينونو دخيړلو دپاره ترې په لابراتوارونو کې کار آخيستل کيږي.

ب. بيا توليدونکې (Reproductive) کلونينګ: دا ډول تکنالوژي د هغو ژوو يا څاروو د توليدولو د پاره استعماليږي چې د حجراتو "ډي اين ای " يې سره يو شان وي.

ketabton.com - The Digital Library



د ډالي په نامه ګډه د کلونینګ د همدې طریقې له لارې تولید شوه.

ج. دناروغیو د علاج دپاره کلونینګ: دا ډول کلونینګ د تحقیقاتو او څیړنو دپاره استعمالیږي، په کوم کې چې د انسان د ودې او ناروغیو د علاج دپاره د "تنی " حجرات یا Stem Cell حاصلیږي.

## د کلونینګ په هکله دمسلمانو ډاکټرانو او اسلامی فقهی د اکادمۍ دریز

داسلامي فقهي د اکادمۍ د ۱۹۹۷ کال په مجلس کې چې د اسلامي نړۍ د مختلفو برخو د ۱۲۵ استازو په ګډون جوړ شوې ؤو د نورو موضوعاتو په ګډون دکلونینګ په موضوع هم بحث شوئ ؤو. پدې کنفرانس کې د اسلامي علماؤو، طبیبانو او فقهاؤو له نظره د کلونینګ په هکله دوه مسئلې وڅیړل شوې:

1. آیا کلونینګ سره په هغه اسلامی عقیده کې کوم شک پیداکیدای شي چې خدای (ج) د موجوداتو خالق او پیداکوونکې ګڼي؟
2. آیا کلونینګ ته اجازه ورکړ شي او که نه؟

د اسلامي فقهي اکادمۍ په کویت کې دمسلمانو ډاکټرانو اداری سره د یوه مقدماتی کنفرانس په هکله تماس ونیو او بیا یې موضوع د اکاډمۍ په مجلس کې وڅیړله. دې مجلس ته طب پوهان هم رابلل شوي ؤو، چا چې اکاډمۍ ته د کلونینګ د جریان او مفهوم په هکله معلومات ورکړل.

ketabton.com - The Digital Library



د لومړۍ موضوع په هکله ټولو موافقه درلوده چې کلونینګ د موجوداتو د خلقت په هکله اسلامي عقیدي کې شک نه پیدا کوي. پاک الله د کایناتو خالق دئ، خو پدې نړۍ کې یې د علت او معلول نظام جوړکړیدئ. په ځمکه کې د تخم کرل علت دئ خو یواځې خدای (ج) د بوټي په بڼه معلول جوړوي. په همدې ډول کلونینګ یو علت دئ او یواځې د خدای (ج) په اراده معلول جوړیدای شي. لکه څنګه چې د تخم په کرلو سره څوک د بوټي خالق او جوړونکې نه ګڼل کیږي، نو دکلونینګ تخنیګر هم د پیدا شوي څاروي خالق ګڼل کیدای نشي. یواځی الله خالق دئ او خلقت د هغې په خوښه منځ ته راتلاې شي.

د کلونینګ د اجازې په هکله د اکاډمۍ د غړو اکثریت د بحث نه وروسته دې نتیجې ته ورسیدل چې د انسان نه پرته د نباتاتو او حیواناتو په برخه کې دکلونینګ اجازه شته. انسان ته دکلونینګ غزونه به خورا زیاتې پیچلې او یو پر بل اغیزناکې ټولنیزې او اخلاقي ستونزې رامنځ ته کړي. له همدې امله د انسان د کلونینګ د اجازې ورکول امکان نلري.

د کلونینګ په هکله د مسلمانو ډاکترانو او فقهاوو دریځ د اجتماعی اخلاقو په دوو مهمو اصولو ولاړ ګڼلاې شو:

أ. ***د تاوان او کړولو اصل.*** ټول هغه ساینسی طریقې منع کوي کوم چې د افرادو او ټولنې په روحي او اخلاقي روغتیا ناوړه اغیزه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



ب. ***د عامه ګټو اصل***. د ناروغیو دمخنیوي او سمولو په چارو کې کلونینګ ته اجازه ورکوي خو پدې شرط چې د افرادو په نسب، کورنیو او ټولنیزو اړیکو او ارتباطاتو ویجاړونکي او ناوړه اغیزې ونلري.

منابع او مأخذونه

د ساینس دایرت المعارف، دوهم ټوک
د اسلامي فقهي د اکاډمۍ د ۹۷ مجلس اسناد
Human Genome Project at www.ornl.gov/sci/techresources/Human_Genome/home. html sited January 2008.

ketabton.com - The Digital Library



## هغه منابع چې ددې رسالې په تحقیق کې ترې استفاده شوې ده:

- د اسلامي فقهي د اکاډمۍ اسناد اود ۹۷ مجلس پریکړې
- د روغتیایي ساینس د اسلامی ادارې دخاص یوولسم سیمینار اسناد
- د اسلامي کانفرانس د ادارې اسناد
- د شمالي امریکې د اسلامي طبي ټولنې اسناد او پریکړې
- د شمالي امریکې د اسلامي طبي ټولنې د اسلامي طبي اخلاقو سند
- د طبي ساینس د اسلامي ادارې اسناد
- د طبي فقهې د اتم سیمینار پریکړې
- د ساینس دایرت المعارف، دوهم ټوک
- فتاوي معاصر، فضل غني مجددي
- قرآن کریم
- Human Genome Project at www.ornl.gov/sci/techresources/Human_Genome/home. html cited January 2008.
- Brain Death in Islamic Jurisprudence, Dr. Abdulaziz Sachedina, University of Virginia
- Resolution of the Council of Islamic Jurisprudence on Resuscitation Apparatus Decision No. (5) D 3/07/86

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# Current Health Concerns In the Lights of Islamic Jurisprudence

Dr. Abdul Rahman Zamani

January 2008

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*